انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱۷/۰۲/۰۳

# د (آی. اس. آی.) اداره،

## جنرال حمید گل او د افغانستان بربادی

یادونه:

زموږ د هیواد په بربادی کی تقریباً د نړی تولو لویو او وړو هیوادونو او د دنیا په بیلو هیوادونو کی بی شمیره



ځانګړو ادارو، ځیرو او قوارو په بیلو بیلو ډولونو سره برخه اخستی او لا هم لګیا دی، د افغان ولس په تباهی کی د معلومو او نامعلومو دلایلو له امله د خرابی د پاره د خپل توان په اندازه هلي ځلي کوی.

دا هم یقینی او څرګنده ده چی هیڅ بهرنی ځواک او قدرت ددی توان نه لری چی د بل هیواد په ورانولو، غلام کولو او د خپل تسلط لاندی د را وستلو امکانات تر لاسه کړی، تر څو چی د هماغه هیواد په دننه کی ځنی کسان یا د ناپوهی، یا د احساساتو، یا د شخصی ګټو د حاصولو او یا د نورو ملحوظاتو له کبله ددی بهرنیو تخریبکارانو سره ملګری نه شی او د هغوی د ناروا پلانونو د تطبیق د پاره ورته زمینه برابره نه کړی.

زموږ د هیواد په بربادی کی د ګنو هیوادونو، د جاسوسیو د ډیرو سازمانونو او د بیشمیره کسانو په منځ کی چی د روسانو د یرغل نه وروسته د افغانانو په ذریعه ډیره ستره برخه لرلی ده، هغه د پاکستان هیواد، د (آی. اس. آی.) اداره او ددی اداری د هماغه وخت مشر جنرال حمید ګل دی.

په دی لیکنه کی چی د روسانو په مقابل کی د افغانستان د ملی قوتونو د جګړه ایزو عملیاتو نه را نیولی تر د تنظیمونو د خپل منځی جنګونو پوری، د طالبانو په ذریعه د مجاهدینو تر ماتولو پوری او بیا د امریکا د بمباریو په ذریعه د طالبانو تر سقوطه پوری، د انګلستان د هیواد د یوی مشهوری ماجرا جوړونکی خبریالی **کریستینا لیمب** له اثر چی د افغانستان د یادښتونو نوم یی پری ایښی دی او په دی تولو دورو کی یی کله د مجاهدینو سره د غرونو او رغونو منزلونه وهلی او د افغانستان لویو ښارونو لکه هرات او جلال آباد له تللی، کله بیا د طالبانو د عملیاتو په وخت کی کندهار ته تللی او کله بیا د امریکا تر حملی وروسته د حامد کرزی د واکداری په وخت کی کابل ته تللی ده، په دی تول اوږده وخت کی د ملا عمر نه پرته د تولو جهادی مشرانو، زمامدارانو، قومانداانو، بن لادن، امریکای جنرالانو او ددی په اصطلاح د «افغانستان د بی تاجه پاچا هانو» جنرال حمید گل، نصیرالله بابر، مولانا سمیع الحق سره مرکی کړیدی او د خپلو سترګو د لیدلی حال سره یی هغه یوځای کړی او د (افغانستان یادښتونه) په نوم کتاب کی سره را



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

ټول کړيدی. دا کتاب په انګليسی ژبه چی  د ليکوالی خپله ژبه ده په (۳۳) فصلونو کی ليکل شوی دی او وروسته په اردو ژباړول شوی او د پاکستان د جنګ په نوم په اوه نيزه خپرونه کی خپور شويدی.
تر هغی وروسته د هيواد ډير تکړه ليکوال او ژورنالست محترم محمد زبير شفيقی صاحب په ډيره خوږه او روانه پښتو ژبه ژباړلی دی. دا ټول کتاب ډير په زړه پوری دی او ډير ناويلی حقايق پکی راټول شويدی، خو ما ته يی د جنرال حميد ګل سره د ليدنی کتنی او د نوموړی جنرال سره د خبرو اترو په فصل کی ډير په زړه پوری ټکی سترګو ته راغلل، فکر می وکړ چی ممکن ډيرو دوستانو به دا کتاب نه وی لوستلی او يا به يی لاس ته نه ورغلی نو ځکه می وغوښتل چی په لنډيز سره د افغانانو د آبادی، آزادی او سوکالی ددی ستر دښمن د کړو وړو او زمونږ د هيواد په ورانی کی ددی هيواد، د (آی. اس. آی.) اداری  او د جنرال ونډه د تاسو درنو لوستونکو سره هم شريکه کړم. دادی په غور يی ولولی.

کريستينا ليمب دا کيسه داسي پيلوی:
زه په اسلام آباد کی په يوه کرايی آپارتمان اوسيدم، يو ټيلفون راته راغی، يو ښځينه غږ راته وويل: مشر صيب در سره ګوری، پوره اته بجی منتظره اوسه، ځوک به درشی.  لږ ځنډ وروسته زما د آپارتمان دروازه وټکوله شوه، ومی ليدل چی دوه تنه په خړو جامو کی زما وړلو ته راغلل.  زه يی د رنګينو هيندارو لرونکی تور ګرندی موټر کی (زيرو پوينټ) ته نژدی د سهروردی واټ يوی نوی ودانۍ ته بوتلم، دا د (ای. اس. آی.) د اداری دفتر و چی د هيواد د ډيرو خلکو په زړونو کی ويره او ترهه پيدا کړی وه.  زه يی په يوه کوټه کی کينولم چی يو د مجلس ميز پکی ايښئ و، په يوه ديوال باندی د افغانستان لويه نقشه را ځوړنده وه او ځای په ځای پکی رنګين ميخونه (Tacks) ټومبل شوی وو.
يوه شيبه وروسته يو د ټيټ قد لرونکی سړی چی خړ کميس او پرتوګ يی اغوستی و او مصنوعی ډوله بريتونه يی هم لروده، توری سترګی او غنم رنګی و، حاکمانه بڼه يی لروده چی کينه پکی له ورايه ځليدله کوټی ته راغی.
زه له ځايه پورته شوم لاس می ور اوږد کړ، هغه د سر په اشاره زما هرکلی وکړ، مخامخ راته په چوکی کيناست، او دا د (آی. اس. آی.) د اداری مشر جنرال حميد ګل و.
هغه له ماسره زما په ژبه خبری کولی. لومړی خبره يی داوه چی پوهيږی ولی می دلته د راتللو زحمت درکړ؟ ورته می و ويل نه! هغه وويل ښه نو غوږ شه.
 دلته بی شميره ژورنالستان راځی، د هرچا د خولی نه خبری اخلی او په ميډيا کی يی نشروی. خو په حقيقت باندی ځوک نه پوهيږی.
ما غوښتل و پوښتم چی دڅه شی په حقيقت، خو زما له پوښتنی مخکی هغه وويل:  ته يوه زړوره ژونالسته يی، د افغانستان د ننه ډيرو خطرناکو ځايونو ته تللی يی، ډير معلومات دی هم راټول کړيدی او د کمونيزم په مخنيوی کی زمونږ په هلو ځلو هم خبره يی. داچی اوس د افغانستان جګړه يواځی په افغانستان پوری ايساره نه ده پاتی شوی بلکی د کمونيزم سره د اسلامی نړۍ جګړه تری جوړه شويده دا يواځی د پاکستان او په پاکستان کی د همدی اداری چی زه يی مشری کوم د هلو ځلو نتيجه ده.

زه د ده له دی وینا نه داسی و پوهیدم چی دی غواړی و وایی چی که چا ته د افغانستان د جهاد ریښتیانی اساس ګزار ویلی شی نو هغه جنرال حمید ګل دی. ما د هغه سره یو کرت پخوا هم لیدلی و، خو هغه وخت دومره مطمئن او مغرور نه و.

جنرال په نسبتاً تُنده لهجه خپلو خبرو ته داسی ادامه ورکړه:

دا اداره (آی. اس. آی.) په ۱۹۵۰ کال چی پاکستان نوی جوړ شوی و، په لومړی وار کی د جنرال ایوب خان له خوا د سیاست مدارانو د را قابو کولو د پاره جوړه شوه. کله چی په ۱۹۵۸ کال کی جنرال ایوب خان واک ته ورسیده، نو ددی اداری ځواک نور هم پسی زیات شو او د پوځ یو اغیزمن سیاسی مټ و ګرځیده. په ۱۹۷۰ کی صدراعظم ذولفقار علی بوټو دا اداره په بلوچستان کی د بغاوت او د بلوڅو د یاغی مشرانو د ځپلو د پاره و کاروله، بیایی خپلو سیاسی مخالیفینو ته د زیان رسولو د پاره تری کار واخست، سیاستوال، ژورنالستان او وتلی کسان یی پری بدنام کړل او له همدی وجهی نه یی په عوامو کی د کرغیړنو اعمالو یا دوکه باز غونډ (Dirty tricks) په نو شهرت و موند.

جنرال د یوه مکث نه وروسته په احتیاط سره خپله د یاداشت کتابچه رابیرته کړه په داسی حال کی چی مخامخ کړکی ته یی کتل ویی ویل:

په ۱۹۷۷ کال کی چی جنرال ضیاءالحق له بوټو څخه واک واخست نو ددی اداری د صلاحیتونو دایره نوره هم پراخه شوه او د افغانستان او د کشمیر په هکله د هر عملی ګام پورته کولو ټول صلاحیت همدی اداری ته ورکړل شو.

کریستینا وایی: کله چی جنرال ددی اداری د واکونو په هکله، خصوصاً د افغانستان د جهاد او مجاهیدینو د کنترول په باره کی خبری کولی نو ما ته داسی څرګنده شوه چی جنرال په دی برخه کی د هیچا د امر تابع نه دی، هر تصمیم خپله دی نیسی او د چا مشورې ته هم اړتیا نه وینی او د ده اداره په «دولت کی د ننه بل مستقل دولت دی» او پالیسی یی داده چی «وجنګوه او حکومت وکړه»

جنرال خپلو خبرو ته داسی ادامه ورکړه: ماته په یاد دی چی د ۱۹۷۹ کال د نومبر په میاشت کی چی ذوالفقارعلی بوټو پانسی شوی و او په همدی وخت کی په اسلام آباد کی د امریکا سفارت ته اور اچول شوی و، نو د امریکا او پاکستان اړیکی یو څه سړی شوی وی او امریکا پاکستان ته خپلی مرستی ځنډولی وی. خو کله چی د همدی کال د کرسمس په جشن کی روسی ټانکونه کابل ته ننوتل، او له بلی خوا د ایران پاچاهی هم را نسکوره شوه نو په سیمه کی د پاکستان نه پرته بل داسی هیواد نه و چی د امریکا سره متحد شی او د جنوب په لور د کمونیزم په مخنوی کی مرستندوی شی.

د سرحد ایالتی والی جنرال فضل حق د جنرال ضیاء الحق مشاور و سمدستی د جمهور رئیس جیمی کارتر د امنیتی مشاور بریژنسکی سره چی یو سخت سری سړی ولیدنه وکړه او د دواړو هیوادونو د کار پوهانو له خوا د روسانو د مخنوی د پاره د نوو پلانونو په جوړیدو کار پیل شو. دی پلانونو یو څه وخت ونیو، په دی وخت کی مونږ مطلب پاکستان د خپل پلان له مخی افغان مجاهد تنظیمونه سره راجوړ کړل او په دی هکله مو ډیر کار وکړ چی د تنظیمونو مشرتوب چاته ورکړ شی او کوم تنظیم ته د غربی او عربی هیوادونو نه را رسیدونکی مرستی او وسلی، په کومه اندازه ورکړلی شی.

جنرال وویل: بالاخره په ۱۹۸۱ کال کی چی رونالد ریګن د امریکا جمهوررئیس وټاکل شو نو د افغان مجاهیدینو سره په عملی توګه د پاکستان له لاری د همدی اداری په مشرتوب مرستی پیل شوی. په همدی کال کی د افغان مجاهدینو د پاره د پاکستان سره د دری ملیارده او دوه سوه میلیونو ډالرو اقتصادی او پوځی مرستو ژمنه شوه. د وسلو

بار به چې کراچۍ ته را ورسيده (آی. اس. آی.) ته به تسليم شو او د ويش او سمبالولو ټول مسؤوليت يی د همدی اداری په غاړه و.

کريستينا د کومی بلی منبع د معلوماتو له مخی وای: د يوی منبع له قوله د (آی. اس. آی.) اداری افغان مجاهدينو ته (۶۵۰۰۰) ټنه وسله چې زياتره يی له چين، اسرائيلو او پولينډ څخه راتله، وويشله، د (آی. اس. آی.) اداری افغانستان ته د وسلو د رسولو د پاره په يوه کيلو ګرام شل ډالره تر لاسه کول. د دی کار لپاره په قبايلو سيمو کی د قاچاقی ډلو څخه کار واخستل شو، افغانستان ته وسله وړونکو لاريو کی به له هغی خوا نه نشه يی مواد راتلل. (آی. اس. آی.) په پاکستان کی خاصی بانکی څانګی پرانستلی او د افغان جهاد دپاره يی پکی د پيسو را ټولو او زخيره کولو کار پيل کړ.

جنرال حميد ګل راته و ويل چې تر د ۱۹۸۹ کال پوری اټيازره (۸۰۰۰۰) مجاهدينو ته په پوځی مرکزونو کی نظامی زده کړی ورکړلی شويده.( د ده د دی خبری معنی دا وه چې ما داسی و پوهوی چې دا کار د ده په ابتکار شويدی ) د امريکا د (آی. اس. آی.) اداری د مونږ سره دا هم و منله چې خپل اجنټان به له افغانستان څخه لری ساتی چې وروسته په دی پريکړه پښيمانه شول. امريکايانو ته قبايلی سيمو ته د تللو اجازه نه وه، هغوی تر هغه وخته پوری د کوم افغان ليډر سره خبری نه شوی کولی تر څو به چې زمونږ کس ورسره نه و. دا وخت په افغانستان کی دری مهمو د جاسوسی ادارو کار کاوه، چې يوه (آی. اس. آی.) بله يی د سعودی عربستان (الاستخبارالعامه) او دريمه د چين استخباراتی اداره وه. د دی ادارو د استازو تر منځ به اونيزه غونډه کيدله. آی اس آی به دوی ته هماغه معلومات برابرول چې دوی ورته اړتيا درلوده. کريستينا وای چې زه په دی خبره لا د مخه خبره وم او ماته د ضيا والحق زوی اعجازالحق دا خبره کړی وه چې : زما پلار او (آی. اس. آی.) دا خبره باوری کړی وه چې امريکايان به د مجاهيدينو سره نيغ په نيغه اړيکی نه نيسی او همدا لامل دی چې هغوی (امريکايان) د افغانستان په هکله په هيڅ نه پوهيږی .دوی په ډيرو هغو پرګرامونو نه پوهيدل چې د (آی. اس. آی.) له خوا د مجاهدينو د قوماندانانو په زريعه په افغانستان کی عمل کيدل.

جنرال راته و ويل: زمونږ د اداری په ځانګړی توګه زما، د قوماندان عبدالحق په څير خپل سری قوماندانان چې غواړی د ننه په ولس کی د خلکو ملاتړ ېی له دی چې هغوی و پيژنی تر د لاسه کړی نه خوښيږی، ځکه چې دا کار مجاهدينو ته ستونزی جوړوی، نو ځکه زمونږ زيار دادی چې ټول جهادی مشران او قوماندانان د ښه انتظام د پاره د خپل کنټرول لاندی وساتو. زمونږ هدف يواځی د کمونيزم نه د افغانستان ازاديدل نه دی بلکی هغه ته د يوه نړيوال ګواښ په سترګه ګورو او د دی کار د پاره مجبوريو ټول هغه تاسيسات چې د شوروی له خوا په افغانستان کی جوړ شويدی او راتلونکو نسلونو ته خامخا د خاطرو په توګه په ذهن کی پاتی کيږی له منځه يوسو، کله چې افغانستان آزاد شو بيا به يی له سره ورغوو. کريستينا وای ما تری و پوښتل چې : تر آزادئ وروسته به دا تنظيمونه و کړای شی چې يو مرکزی حکومت په کابل کی جوړشی؟ جنرال د لومړی ځل د پاره موسکی شو او په لنډه توګه يی راته و ويل: که هغوی د کابل د اداری نه عاجز شول مونږ به ورسره مرسته وکړو، لکه څنګه چې يی اوس ورسره کوو. هغه لږ غلی شو او بيا يی راته و ويل: ته پوهيږی په ۱۹۸۰ کال کی د مجاهدينو سره د امريکا مرستی په کال کی ديرش ميليونه ډالر و، خو زمونږ د هلو ځلو په نتيجه کی په ۱۹۸۶ کال کی د دی مرستو اندازه په کال کی شپږسوه ميليونو ډالرو ته جګه شوه. همدومره مرستی سعودی عربستان هم راليږلی، دی مرستو د (آی. اس. آی.) اداری ته دا زمينه برابره کړه چې تر يو لک تنو پوری اجنټان د جهاد سره د مرستو د پاره په کار واچوی. جنرال دا خبره هم پټه نکړله

چی په ۱۹۸۸ کال کی په هوایی پېښه کی د ضیا والحق مړینی دا اداره چی مایی مشری کوله د له منځه تللو د ګواښ سره مخ کړله،او د بی نظیر بوټو په راتلو سره د دی اداری په کارونو کی څه ډیری ستونزی را منځ ته شوی خو مونږ دی ټولو ستونزو ته اوږه ورکړله او یو قدم هم تر شا نه شولو.( د دی خبری معنی داوه چی بی نظیری د صدر اعظمی په توګه ونه شو کولای چی د آي اس آي په پلانونو کی بدلون راولی)

کریستمینا وایی د حمیدګل خبره رښتیا وه، ماته په دی هکله د بینظیر بوټو یوه نژدی ملګری او د هغی په کابینه کی د قانون وزیر افتخار ګیلانی هم دا خبره کړی وه چی د ۱۹۸۸ کال را وروسته یوه حکومت هم افغان پالیسی نه ده اداره کړی، حتی پوځ او (آی. اس. آی.) د حکومتی چاراوکو سره یوه مشوره قدری هم نه ده کړی. هغه زیاتوی بی نظیر بوټو هم ماته په دی خبره اعتراف کړیدی چی: «یوه اندازه دا خبره رښتیا ده چی پوځ او (آی. اس. آی.) افغان پالیسی اداره کوله، خو کله چی زه صدر اعظمه وم نو لږ تر لږه یو ختډ خو ؤ. زما د حکومت تر برطرفۍ وروسته هغوی (امریکا) اسامه بن لادن راوست او افغانستان یو تر لاس لاندی هیواد شو»

ما کریستینا د جنرال ګل نه پوښتنه وکړه چی تاسو د شوروی له وتلو او په کابل کی د کمونستی نظام تر ماتولو وروسته په افغانستان کی څه ډول حکومت جوړول غواړئ؟ جنرال ګل و ویل مونږ هلته د یوه دوست هیواد موجودیت غواړو چی هم زمونږ شمال لودیځ سر حدونه خوندی وی او هم ورسره د پښتو نستان مسئله چی اکثر افغان حکومتونو د هغی له کبله د پاکستان سره دښمنی کوی ختمه شی.

ما بله پوښتنه کوله چی هغه په ادامه کی و ویل داسی یو دوست دولت په افغانستان کی هغه وخت جوړیدای شی چی هلته د ښو مسلمانانو لکه انجنیر حکمتیار او پروفیسور ربانی په مشری چی د پاکستان سره د ښو اړیکو غوښتونکی دی اسلامی حکومت جوړشی. د دی کار د عملی کیدو د پاره مونږ د افغانستان د جهاد د پراختیا د پاره هلی ځلی کړیدی او ما شخصاً له ملایانو نه غوښتی دی او هغوی می دی ته چمتو کړیدی چی د دینی مدرسو په زده کونکو کی د جهاد جذبه را وېښه کړی. برسیره پردی ما په بهر کی پاکستانی سفارتونو ته لارښونه وکړه چی د ټولو اسلامی هیوادونو نه هغو کسانو ته چی د افغانستان په جهاد کی په داوطلبانه توګه برخی اخستنی ته تیاری ولری ویزی او د الوتکی وړیا ټکټونه ورکړی. د دی کار په نتیجه کی له الجزایر څخه تر سودان پوری د ۳۸ هیوادونو نه تر پنځوس زرو تنو پوری د خپلی خوښی مجاهدین د افغان مجاهدینو سره یوځای شول. جنرال په ویاړ سره و ویل چی په عربی کورنیو کی دا یو روایت شو چی یو زوی ته په افغانستان کی پوځی روزنه ورکړی.

کریستینا وایی : کله چی ما د جنرال ټینګار په کابل کی د حکمتیار او ربانی د مشرتابه لاندی ولیده نو وپوهیدم چی جنرال لومړی په کابل او بیا په پاکستان کی د بنسټپالو د حکومت د جوړولو پخه اراده لری. کیستینا زیاتوی چی جنرال حمید ګل ماته و ویل چی هغه وخت ډیر نژدی دی چی روسان مات شی او مجاهدین د لویو ښارونو د نیولو د پاره تیاری و نیسی.

کله چی په ۱۹۸۹ کال د جلال آباد پیښه رامنځ ته شوه، ماته معلومه وه چی د ا د جنرال حمید ګل طرحه وه، خکه هغه ماته ویلی و چی اوس هغه وخت راغلی دی چی مجاهدین لوی ښارونه ونیسی، ده دا دعوه هم کړی وه چی : مجاهدین په دری ورځو کی جلال آباد نیولی شي. خو کله چی حملی پیل شوی نوټولی خبری غلطی وختی او مجاهدین په دی جګړه کی د واړو لورو ته د زیاتو تلفاتو نه وروسته ناکام شول.

وروسته جنرال حمید ګل د نیویارک ټایمز سره په مرکه کی ویلی وو چی د حملی قومانده بی نظیر بوټو ورکړی وه، خو بوټو د حمیدګل دخپلسری نه تنګه شوی وه او غوښتل یی چی د هغه نه ځان وژغوری نو هماغه و چی په همدی

کال کی یی د بوش د اداری څخه د هغه د شړلو اجازه تر دلاسه کړه او هغه یی د (آی. اس. آی.) له اداری څخه تبدیل او د ملتان د قول اردو قوماندان یی و ټاکه.
که څه هم ظاهراً جنرال حمید ګل له دی اداری نه لری شوی و، خو په (آی. اس. آی.) کی د ده وفادارو ملګرو د ده کار ته ادامه ورکړله اوله ۱۹۹۲ کال د مجاهدینو له بری وروسته هم ده د افغان پالیسی اداره کوله او ټول نفوذ یی په ځای پاتی و. دی نه یواځی د ربانی په مشری د کابل په په اداره کی د پوره واک خاوند و، بلکی د راتلونکو پلانونو د پاره یی په سودان کی د اسامه بن لادن سره هم ملاقاتونه کول.
ما چی کله د افغانستان د مجاهدینو سره د هغه تعلقات او دده د خپلو ویناو څخه ترتیب شوی را پورونه د افغانستان د راتلونکی په هکله خپاره کړل نو، د جلال آباد د شاته تګ نه څو میاشت وروسته خو د ده د بدلیدو څخه مخکی ماته یو بل تیلفون وشو چی «مشر» درسره ګوری، بیا دوه کسه په جامو کی راغلل خو داکرت موټر له زیرو پوینټ (Zero Point) څخه د راولپنډۍ په لور و خوځیده چی هلته پوځی قرارګاوی دی. او بیایی زه په یوه کوټه کی د یو میز مخی ته کینولم ما ګومان کاوه چی د جنرال ګل سره به ګورم، خو دهغه پرځای دوه نا اشنا کسان له یو پنډی دوسیی سره زما مخی ته کیناستل او دوسیه یی په میز کینوده، یوه یی رانه و پوښتل:

ته ولی غواړی چی پاچا بیا راشی؟
ما وخندل ومی ویل دا تاسو څه وایی؟
ته ولی د پاچا د بیا راتلو د پاره کار کوی؟
زه وپوهیدم چی تحقیق را نه کوی.

پرمایی تور ولګاوه چی برتانوی او روسی ګډه توطئه کی شریکه یم چی غواړی پاچا بیرته راولی. د جنرال سره خبرو اترو پر مهال را ته لا پخوا څرګنده شوی وه چی له کومو خلکو څخه چی جنرال ګل زیاته کرکه لری په هغو کی یو ظاهر شاه دی. دا تور ډیر خندنئ و، خو په میز باندی پنډه دوسیه کی زما دکړو وړو او روم ته زما د سفرونو د پاچا او د شاهی کورنئ د نورو غړو سره زما د ملاقاتو او کتنو ټول معلومات پکی پراته و، او دا معلومات هماغو کسانو دی اداری ته ورکړی و چی ما تر ټولو ښه دوستان بلل.
روم او کندهار ته زما تلل د دوی د پاره ډیر ښه ثبوت و چی زه د پاچا د پاره کار کوم. ټوله شپه یی په همدی خونه کی وساتلم او هماغه پوښتنه یی رانه په وار وار کوله. سهار یی بیرته اسلام آباد ته راوستلم او ګواښ یی راته وکړ چی که خپل خیر غواړی له دی هیواد نه ووزه. چی کورته راغلم ټیلفون یی را ته قطع کړی و او د کور ټول کالی را ته ګډ وډ کړی وو.
په همدی ورځی د پاکستان اخبارونو خبرونه خپاره کړل چی زه جاسوسی کوم او یوه اخبار خو دا سرلیک ورکړی و چی لیمب د قربانی په لور (Lamb to the slaughter). بالاخره د اطلاعاتو وزیر زما د ویزی د منسوخي اعلان وکړ.
لږ موده وروسته حکومت بدل شو او ګل یی به وخته مخکی تقاعد ته اړ کړ او ماته بیا پاکستان ته د تللو اجازه راکړله شوه.
د تقاعد نه وروسته هم جنرال ګل د بنسټپالو تود ترجمان پاتی شو، کله چی طالبان را پورته شوا جنرال ګل یی تود

هرکلی وکړ. دی د طالبانو استاد او پالونکی شو. د (آی. اس. آی.) مسؤولین بدلیږی را بدلیږی خو دغه اداره د جنرال ګل د پلویانو له خوا اداره کیده او هغه خپل نفوذ پکی په کار اچولو.

کله چی طالبان د زوال سره مخامخ شول نو ماته داسی څرګنده شوه چی اوس به دافغانستان په هکله دده ټول خوبونه ټوټه ټوټه شوی وی، نو ځکه می وغوښتل چی د تقاعد په حالت کی یی بیا هم ووینم. دده د شخصی تلیفون نمبر می پیدا کړ چی د سکرتر سره له خبرو پرته یی وګورم. چی زنګ می ورته وواهه او ورته می وویل چی زه څوک یم، نو داسی راته ښکاره شوه لکه ډیر کلونه چی زما د تیلفون انتظار کوی. راتلونکی سهار ته یی د لیدلو وخت راکړ. هغه دا وخت په چک لاله کی چی دپوځی متقاعدو افسرانو د پاره پکی د څلورو دیوالونو د ننه سپین رنګه کورونه جوړ شویدی اوسیده. زه له ټاکلی وخت نه نیم ساعت د ځای د میندلو له کبله ناوخت ور ورسیدم، هغه په یو معمولی کوټه کی زما هرکلی وکړ، هلته په میز باندی د برلین د ړنګ شوی دیوال د یوی څنډی عکس ایښی و، ده تل داسی ګومان کاوه چی په نړی کی که د کمونیزم په خلاف چا څه کار کړی وی نو دی په هغوی کی محوری حیثیت لری، او دی د افغانستان د جهاد تر ټولو ستر اتل او د جهادی مشرانو روزونکی او ټا کونکی دی.

د نورو لیدنو په خلاف دا کرت دده په شونډو مسکاوه ما تری و پوښتل چی د سپتمبر د ۱۱ په هکله څه نظر لری؟ هغه په دی توطئه کی د یهودو او هندوانو د دخالت په هکله اوږودی خبری وکړ، په آخر کی یی وویل چی ما له یوی مودی راهسی د داسی یوه یرغل انتظار درلود، امریکایان ډیر بد کارونه کوی نو ځکه خو د بدل اخستلو امکان و. د استخباراتي روزني او د ۳۶ کلنی مسلکی پوځي تجربي له مخی زه دا شک نه کوم چی دا کار به د شارون کسانو کړی وی، خو امریکا په دی پیښه د نړی خواخوږی تر لاسه کړه او د هغی نه په ګټی اخستو سره غواړی ستراتیژیک اهداف تر لاسه کړی.

ما له جنرال ګل نه دده او د اسامه بن لادن تر منځ د اړیکو پوښتنه وکړه، ده ځواب راکړ: ته پوهیږی چی لومړی ځل (سی. آی. ای.) د هغه سره زما د لیدلو زمینه برابره کړه، دوی پر هغه مین ول او ویل یی چی یو ملیاردر په خندا سره په دی مرداره جګړه کی د برخی اخستلو د پاره راروان دی. ما د لومړی وار د پاره په ۱۹۹۳ کال کی هغه په سودان کی ولیده، هغه راته ساده او حساس سړی ښکاره شو او د هغو نورو کسانو په سترګه می ورته وکتل چی په افغانستان کی یی جګړه کوله.

ته پوهیږی د امریکایانو یو عادت دادی چی دیوه سړی نه کار واخلی بیایی له شیدو څخه د مچ په څیر راباسی او لری یی غورزوی، له ما سره یی هم همداسی وکړل، د روسانو د ماتولو د پاره می ډیره مرسته وکړه خو دا جورج بوش و چی زه یی لری کړم. بوش هیدایت ورکړ چی (آی. اس. آی.) تصفیه کړی، او اوس هم له هماغی (آی. اس. آی.) نه معلومات اخلی، دوی چی کومه اداره ځواکمنه او د خپل اختیار والا جوړیدونکی ووینی بیا یی له منځه وړی. دوی د تراشیدم، پرستیدم ، شکستم په مصداق چلن کوی.

ما تری و پوښتل چی د طالبانو سره د (آی. اس. آی.) اړیکی څه ډول وی؟ هغه ځواب راکړ:

لومړی ځل چی طالبان را پورته شول نو ما فکر کاوه چی دا د جهاد په خلاف یوه توطئه ده، وروسته می احساس کړه چی دا د جهاد په بی قدری او بدرنګی کی د افغان ولس غبرګون دی. ددی دپاره چی دوی ښه وپیژنم کابل ته ولاړم، و می لیدل دوی هماغه څه کوی چی مونږ غوښتل خو حکمتیار او ربانی هغه و نه شو کړلی. زه یواځی د افغانستان د پاره نه بلکی د پاکستان د پاره هم همداسی یو نظام خوښوم. دوی ډیر ګټور کارونه کول نو ځکه یی ما هم پراخه ملاتړ وکړ.

ما بیا تری و پوښتل چې دوی ولې دومره ژر له منځه ولاړل؟
هغه راته و ویل: لوبه لا پای ته نه ده رسیدلې، روسان په لسو کالو کې په افغانستان کې مات شول، امریکایان به دا لوبه په پنځو کلونو کې وبایلي. اوس د «دوی ونیسی چې درنه لاړ نه شي» خبره بې موده شویده. ما لا اصلي پوښتنې ترې نه وې کړې چې هغه ناڅاپه له ځایه پورته شو او ویې ویل: مرکه پای ته ورسیده، نور د لمانځه وخت دی.
زما زړه په درزا شو ورته مې وویل یوه اخري پوښتنه، تاسو ولې له ما نه پوښتنې پلټنې وکړې او له هیواده نه مو وویستلم؟
هغه ځواب راکړ : غوښتل مې آرام و اوسم.
ما بیا و پوښتل ماخو خپل کار کاوه تاسو ولې داسې وکړل؟
یو وار بیا د جنرال سترګې د پخوا په څیر له غوسې نه وخوټیدې او زه وویریدم چې بیرون به مې و غورزوي، هغه چې په خپل مخ د اخلاقو کوم نقاب غوړولی و هغه یې و غورزاوه او راته ویې ویل:
ایا میرمن لیمب تاته دا معلومه وه چې دا یو راز دی. چې هیڅ ځواب نه لري. په افغانستان کې د ډیرو خلکو لاسونه په وینو رنګ دي، ښایي هیڅوک داسې پیدا نه شي چې لاسونه یې پاک وي، نه قوماندان، نه سیاستوال، نه ژورنالیست او نه بل څوک.
ددې ځواب سره ماته دده د ننه هغه سړی تر سترګو شو چې د یو بل هیواد د بیګناه خلکو له برخلیک سره یې د لوبیدو هڅه او ستره جفا کړیده او اوس ددې نه عاجز دی چې د خپلو کړو ګناهونو د پاره د جبران لار و مومي نو همدا بهتره ګڼي چې تر آخره په خپل دریځ ولاړ پاتې شي.
پای.